# مطبوعاتی خبرتیا

## کليوال سړکونه کلي له نړۍ سره نښلوي

د ۲۰۰۹ کال د مي ۲۵ مه

کابل، افغانستان – د وړتياو بډاينی او د عامو خلکو ګډون ته افغانستان د کلو د لار جوړونی ملی پروګرام (NRAP) ځانګړی پاملرنه کوي. نوموړي پروګرام د افغانستان سيمه ايزو ټولنو عامه خدمتونو او اسانتياو ته د دوامداری رسيدنی دوامدار تقويت ورکوي.

د ۲۰۰۲ کال د جون له مياشتي څخه را په دې خوا د کليو د پراختيا او بيارغوني او د ټول ګټو چارو وزارتونو د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د دفتر په تخنيکی مرسته د کلو د لار جوړونی ملی پروګرام په ګډه تطبيق کړ.

د وړتيا د بډاينی فعاليتونه چه د دولت مالکيت په پروژه کی زياد کړی طرحه شويدی په داسی حال کی چه د عامو خلکو ګډون د اجتماع او چاپيريال ستندردونو په پوره تطابق کی مرسته کوی.

نوموړي پروګرام تر دې دمه ۱۲,۴ ميليون کاري ورځې رامينځ ته کړي او په دغه راز يی د بې وسې افغانانو د معيشتي اړتياو په پوره کولو کې يې مرسته کړې ده. په ټوليزه توګه ۹۶۳۲ کيلومتر سړک يا جوړ او يا هم بيارغول شوی چې د هيواد په ۳۴ ولايتونو کې ټولې کليوالې سيمې سره نښلوي. دغه راز ۶۶ پلونه چې اوږد والی يې په ټوليزه توګه ۱۶۸۴ مترو ته رسيږي، ۸ هوايې ډګرونه او ۷۳۰۹۷ متره د سړکونو پورې اړوند نور جوړښتونه چې پکې استنادي ديوالونه او پلګوتی شامل دي، يا جوړ کړي او يا يې هم بيا رغولي دي. د کار د فرصت د برابرولو د هلو ځلو د يوې برخې په توګه، نوموړي پروګرام په سيمو کې لازم بنسټونه لکه د اوبو لګولو سيسټم، د اوبو او چاپيريال ساتنې اسانتياوې، ښوونځي او کلينيکونه د کارګر د مټ د طرحې پر بنسټ جوړ کړي دي.

د ډير شمير بيلابيلو مرستندويو ادارو په مرسته پروګرام په برياليتوب سره بازارونو او بنسټيزو خدمتونو ته لکه روغتيا او معارف ته د رسيدنی لاره همواره کړی ده.

د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د دفتر مشر بروس مک کارون وايي: "نوموړي پروګرام د افغانانو په اقتصادي او ټولنيز ژوند خورا لويه اغيزه اچولې ده. نوموړي پروګرام دغه راز ښځو له پاره د زيږون مخکې او په روغتونونو کې د زيږون اسانتياوې او خدمتونه ته لاس رسی برابر کړي چې دا رسيدنی پخوا موجود نه ووړ"

دې پروګرام دغه راز د سفر د وخت او لګښت په کمولو کې مهم رول لوبولی، د دندو د ترلاسه کولو زمينه يې برابره کړې او اقتصادي او سوداګريز فعاليتونه يې اسان کړي دي. هغه مرستندوی ادارې چې دې پروګرام سره مالي مرسته کوي نړيوال بانک، د انګلستان د پرمختيايي مرستو نړيواله اداره، د امريکې د پرمختيايي مرستو نړيواله اداره، د سويډن د پرمختيايي مرستو نړيواله اداره، د کاناډا د پرمختيايي مرستو نړيواله اداره، د جاپان، آستراليا او هسپانيې حکومتونه دي.

د افغانستان حکومت کليوالو سيمو ته د بيړنی لاس رسۍ ملي پروژه (NERAP) د تطبيق کار د کلو د لار جوړونی ملی پروګرام د ټوليزو موخو په چوکاټ کې پيل کړی دی. د موجودې ۱۱۲ ميليون ډالرو بودجې څخه په استفادې سره چې د نړيوال بانک له خوا برابره شوې ده، ددې درې کلنې پروژې موخه د هيواد په کچه د دوهمې او دريمې درجې نږدې ۲۰۰۰ کيلومتره سړکونو او د مديريت د چارو د ښه والي او د ښو خدمتونو برابرولو په برخه کې د وزارتونو د وړتياو د کچې لوړول بلل کيږي.

د دی پروژی په برياليتوب پلي کول د افغانستان ملي پرمختيايی استراتيژی ټاکل شويو موخو په لاس ته راوړنه کی خورا اهميت لری.

د لا زیاتو معلوماتو له پاره هیله کیږي له کتسوی کایا سره په 685 900 798 93+ شمیره یا katsuik@unops.org
بریښنالیک اړیکې ټینګې کړئ او یا هم www.unops.org انټرنیټي پاڼې ته ورشئ.